## د تړون د ورکړی دپرېکړې عامه خبرتیا

**موضوع**: د افغانستان بانک لپاره د دوه ډولو تیلو( پطرول او ډیزل) چمتو او تدارک کولو د هارون بلال شرکت ته د قرارداد ورکړی د پرېکړئ عامه خبرتیا

د تدارکاتو قانون د درې څلوېښتمې مادې د دویمې فقرې سره سم، له دې لارې ټولو ته خبر ورکول کېږي، چې د افغانستان بانک لپاره د دوه ډولو تیلو( پطرول او ډیزل) چمتو او تدارک کولو د هارون بلال شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د 7380-0101 شمېرې جواز لرونکی او اصلي موقعیت یې شهزاده سرای ، دوکان نمبر B237 مرکز کابل کې دی. د تړون ټولیزه بیه (15,792,800) پنځلس میلیونه اوه سوه دوه نوی زره او اته سوه افغانۍ ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نیوکه په لیکلې بڼه د لاملونو په ذکر کولو سره د اعلان د خپریدو له نېټې تر اوو تقویمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د قرارداد د عقد کولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړیدو به تړون نه عقد کېږي.